پوپلزی ۲۰۱۲/۱۰/۱۳

# دروسيې او غرب تر منځ ستراتيژيک مخالفت

د اوسنی پرمختللي تیکنالوژئ په برکت نړیوالي شخړی د قوتو ترمنځ په ډیره چټکتیا سره عامه ذهنتو ته رسول کیږی او جهانی کشمکش د دی قوتو ترمنځ دساړه جنګ نه وروسته او په خاص ډول د روسی د سیاسی نظام د ړنګیدونه وروسته یوی نوی مرحلی ته داخل سوه.

د روسی نوی نظام د خپلو هغو اشتبهاهاتو د تلافی کولو په غرض یوه نوی ستراتیژک تړون ته چی د شانګهای تر عنوان لاندی وه جوړ او د چین سره یوځای یی جهانی کشمکش ته د قوتو ترمنځ نوی صفحه خلاصه کړل چی نتایج یی موږ د دی څوتیرو کلو په جریان کښی ولیدل؛ خوصوصاً دمنځنی ختیځ په هغو هیوادو کښی چی دغربی متحد بلاک له خوا پر عراق، لیبیا ، باندی نظامی یرغل تر سره سول؛ اوس سوال رامنځته کیږی چی ولی په سوریه کښی د ملګرو ملتونو د پخوانی ریس کوفی عنان ماموریت د ناکامی سره مخامخ سو او پر ځای یی لخدر ابراهیمی مقرر سو او په دی وروستیو کښی د مطبعوعاتو له لاری دا هم اعلان سول چی لخدر ابراهیمی هم په دی ماموریت کښی د ناکامی سره مخامخ دی.

دلته سوال دا دی چی تر اوسه هم د روسی او امریکی تر منځ ایډیالوژیک مخالفت پر خپل حال پاته دی او روسیه د تیرو ۱۵ کالو په تناسب بیا په یوه اقتصادی قدرت تبدیله سوی ده نو اوس خپل مخالفت په ښکاره ډول د غربی متحدینو ته ښکاره کوی.

تر کومه ځایه چی د امنیت په شورا کښی روسيې او چین خپل دریز ښکاره کړی چی د سوریی پر ضد نظامی حمله ویټو کړی او هم دا ډول یی خپله ستراتیژی د ایران په وړاندی لا له پخوا تشریح کړی ده چی د ایران پر ضد د هر نوعه نظامی حملی مخالفت ښودلی دی چی دا په ماهیت کښی د روسانو ضدیت د غربی بلاک په مقابل کښی په ګوته کوی؛ دا په واضح ډول نماینده ګی د دی کوی چی یو د خطر زنګ یی وغربی متحد ینوته اعلان کړی او غربی متحدین هم د نظامی برخورد څخه پر شا او په مقابل کښی یی د سوریی د دولت د مخالفینو سره مرستی زیاتی کړی؛ جهانی او منظقوی مسایل خصوصاً بیا د دی تیرو دولوسو (۱۲) کالو په جریان کښی تر حده زیاتی بغرنجه او پیچلی سوی دی.

ترکومه ځایه چی اوسنی جهانی کشمکش په دی حساسو تاریخی شرایطو کښی د دی قوتو ترمنځ د افغانستان، عراق، لیبیا، ایران، او سوریی تر منځ موجود دی نو غربی بلاک خصوصاً د ساړه جنګ د ختمیدو نه وروسته او د روسیی برخه په جهانی فیصلو کښی کم رنګه او لږ ده نو غربیان د هیڅ نوعه فرصت څخه لاس نه اخلی هر نوعه امکانات چی یی په قدرت کښی وی ور دانګی دا ځکه چی په دی تیرو (۱۲) دولسو کلو کی شرایطو وښودل چی دغربی بلاک سیاسی، او نظامی فعالیتونه په افغانستان کښی او په اعراق او لیبیا کښی کم رنګه او ناکام وه چی ددی نظامونو پر قدرت را وستل هم د مختلیفو عواملو درلودونکی دی، چی د افغانستان د اوسنی نظام څخه په ملی او بین المللی ډول سره نارضایتی موجوده ده او خلګ ورځ تر بلی نا امینده دی، دا ځکه چی اداری فساد، د مخدره موادو کارو باریان، په اخلاقی فساد ککړ او داسی نور دا هغه مرضونه دی چی زموږ ټولنه او خلګ یی د دی تیرو (۱۲) دولوسو کالو را په دی خوا مبتلا کړی دی خو متاسفانه کوم ډاکتر چی یی واعلاج ته ورغلی دی او هلته په داخل د کور کښی قرار لری هغه ډاکتر پخپله هم په دی مرضو اخته او مبتلا دی.

او د بلی خوا د غربی متحد بلاک وتل دافغانستان څخه په زیات شمیر په ۲۰۱۴ کال کښی دا هم د روسیی او چین هغه سیاسی فشار وه چی دامنیت په شورا کښی یی غربی بلاک ودی ته مجبور کړی چی د هغو عساکرو تعداد دکمیت پر اساس چی په افغانستان کښی قرار لری را کم کړی دا ځکه چی روسیه او چین نه غواړی چی ودی ته دی نژدی د غربی متحد بلاک نظامی قوه پرته وی.

هم دا علت دی چی امریکایی او انګریزی سیاست مداران او نظامیان کوښښ کوی چی د دی جنګ لمنه اوږده کړی او په منطقه کښی دوامداره انارشیزم برقراره کړی، او دا وښوی چی په منطقه کښی جهانی تروریزم لا موجود دی او د دی ګډوډی او انارشیزم د تکثیرولو په غرض یی په منطقه کښی یی دپاکستان جنرالان او د آی، سی، آی، استخباراتی شبکه انتخاب کړی ده چی په دی منطقه کښی ګډوډی او انارشیزم ته هم داسی ادامه ورکړی هغه متل دی چی په یوه مرمی باندی دوی مرغی ښکارول نوغربی متحد بلاک نور دپاکستان ودی استخباراتی جنګ ته اجازه نه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

ور کوی، دا ځکه چی د یوی خوا به دا ښودل سوی وی چی خطر لا موجودی اود بلی خوا به هم دوخت په تیریدو سره د پاکستان دغه موجوده فرسوده سیاست نور هم رسوا او د اینزیوا خواته ولاړسی چی دا زموږ دخلګو او ملک په ګټه دی، دا ځکه چی ده افغان معصوم ولس دا (۳۳) کاله موده کښی د هم غه شان دسیسو قربانی سوی دی ځکه چی امریکایان او حتا انګریزی سیاست مداران اوس په دی حقیقت پوه سوی دی چی دا آی، ایس، آی جاسوسی شبکه مستقیماً د سخت دریزو ملاتړ او کومک کوی چی مثالونه یی لکه په هند کښی د حملی په نتیجه کښی ۲۵۰ بیګناه انسانان مړه سول چی د دی حملی تر شاه لښکری تیبه چی دا سخت دریزه ډله په منظم ډول دآی، ایس،آی، څخه کومکونه تر لاسه کوی او هم دا ډول په افغا نستان کښی د دی تیرو (۱۲) کلو په جریان کښی د غربی متحدی نظامی قوی پر ضد او د افغان ولس پر ضد جنایتکارانه او تخریبی عملیات ترسره کوی چی ډیر ژوندی مثال یی دیوه کال را په دی خوا دکنړ پر ولایت او ولسوالیو باندی د درنو وسلو ګذارونه، چی په نتیجه کښی به وخت دا ثابته کړی چی د پاکستان اوسنی سیاسی نظام به په جهانی سطه مونزوی او دیوه ډیر غټ مشکل سره لاس او ګریوان سی، چی دا پروژه اوس امریکایانو او انګریزانو په ګډه سره د یوی ستراتیژی په حیث منلی ده، او دا یو ډیر منل سوی حقیقت دی چی موږ به یی ټوله په ډیر نژدی وخت کښی هغه ووینو.

سرچینه:
Larawbar.com


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ